## الدرس الثالث
## مفسدات الصوم

## دريم درس
## روژه ماتونکی څيزونه

١- قصدًا خوراک څښاک کول : البته په هيره باندی خوراک څښاک سره روژه نه ماتيږی ، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی :«مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ» رواه مسلم . ترجمه : څوک چی هيره باندي خوراک څښاک وکړی ، او روژه دار وی نو روژه دي پوره کړی ، دغه رنګه پوزه باندي خيتې ته اوبه تلل يا د رګ په واسطه ګلوکوز يا وينه بدن ته خيژول او ياهرهغه څيز چی بدن ته دغذاء په طور فائده ورکوی روژه ورسره ماتيږی ، ځان تري ساتل پکار دی .٢-د خپل اهل سره هم بستري (جماع) کول کله چی روژه دار د خپلي کور وداني سره همبستری وکړی ، نو روژه ئي باطله شوه ، کفاره به هم ورکوی او قضاء روژه به هم نيسی ، د کفاری دری صورتونه دی : ١_ غلام آزادول .ب_که چرته غلام نشی آزادولی نو بيا به دوه مياشتی پرله پسی روژی ونيسی ، بغير دشرعی عذرنه به مينځ کي روژه نه ماتوی ، مثلًا د اختر په ورځو يا دمرض وغيره په صورت کښي روژه ماتولی شی ، بغير د شرعي عذر نه که يوه ورځ هم روژه ماته کړی ، دوباره به دسرنه شروع کوی .ت_که د دوه مياشتو روژو وس نه لری، نو بيا به شپيتو (٦٠) مسکينانو ته طعام ورکړی .٣-قصدًا د بدن نه نطفه خارجه شی لکه د خپل اهل سره لوبی کول يا بلی طريقی سره نطفه خارجه کړی ، نوروژه ورسره ماتيږی ، قضاء به راوړی ، کفاره وربانديی نشته ، البته احتلام باندي روژه نه ماتيږی ، ځکه هغه بي ارادي وی،٤-حجامه کول يعنی د بدن نه وينه ويستل : د حجامي په صورت کښي ، يا وينه ورکولو سره روژه ماتيږی ، البته د ټيسټ دپاره لږه وينه ورکولو سره روژه نه ماتيږی ، او يا غير اختياری وينه خارجه شی لکه د پوزي نه ، يا د زخم نه ياد غاښ وغيره نه ، نوروژه ورسره نه ماتيږی،٥-قصدًا قيئ کولو سره : البته که چرته غير اختياری وی نوبيا روژه ورسره نه ماتيږی ، دي ذکرشوی څيزونو سره روژه ماتيږی ، ترڅو پوری چي اراده او قصد ورسره ملګری وی ځکه چي په خطاء سره يا په ناپوهتياسره او يا په هيره سره روژه نه ماتيږی. ٦-روژه ماتونکي څيزونو کښي د حيض او نفاس وينه خارجيدل هم داخل دی ، هرکله چي زنانه وينه ووينی نوروژه ئی ختمه شوله ، دحيض يا د نفاس والا زنانه دپاره روژه نيول حرام دی ، البته بيا به ئی قضائی راوړی .